PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

فرمان الهی

هنگامی که آنها (منافقین) را می بینی، جسم و قیافه آنان تو را در تعجب فرو می برد؛ و اگر سخن بگویند، به سخنانشان گوش فرا می دهی؛ اما گویی چوبهای خشکی هستند که به دیوار تکیه داده شده اند! هر فریادی از هر جا بلند شود (آنرا) برضد خود می پندارند؛ آنها دشمنان واقعی تو هستند، پس از آنان بر حذر باش! خداوند آنها را هلاک کند، چگونه از حق منحرف می شوند؟!

(سورة المنافقون، آیت ۴)

نبوی ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

له حرامو نه خان وساته چې تولو نه زیات عابد جوړ شی، په قضا او قدر راضی اوسه چې له تولو نه زیات غني شی، له خپلو گاونډیانو سره نیکي وکړه چې کامل مؤمن شی. کوم څیز چې خان لپاره خوښوی هغه د بل مسلمان لپاره هم خوښ کړه چې کامل مسلمان شی. ډېره خندا مه کوه چې دا زړه مړ کوي.

(احمد ترمذي)

شهادت دویم کال، ۵۲ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غویي ۱۵ مه د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاول ۲۱ مه د۲۰۱۰ م د می ۵ مه

امریکایي ورځپاڼي په افغانستان کې د ملکي وگړو د وژل کېدو په اړه لیکي

دامریکایي عسکرو وژې دکرزي قهر لاپاروي

نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې په خپله یوه گڼه کې لیکلي چې امریکایي پوځونو د کندهار د ښار نه د باندې پریوه مسافر وړونکي بس ډزې وکړې او ملکي خلکو ته یې مرگ ژوبله واړوله.

ورځپاڼه لیکي چې دغه ناوړه پېښه ددې سبب کېږي چې د خلکو غصه په داسې یو ښار کې را وپاریږي چې د اوسېدونکو ملگرتیا یې د جنگ د گټلو لپاره خورا زیات ارزښت لري.

نیویارک ټایمز زیاتوي چې دغه پېښه د کندهار د ډېر مهم تهاجم په درشل کې کېږي.

نیویارک ټایمز لیکي چې په افغانستان کې د امریکا او ناتو د قواو قوماندان جنرال مک کرستال د ملکي کسانو د مرگ ژوبلې کمېدل خپل مهم هدف گرځولی دی او په دې برخه کې څه کموالی هم لیدل کېږي خو په عمومي ډول د امنیتي پوستو په شاوخوا کې دغه پېښې نه دي کمې شوي.

د بهرنیو قواوو قوماندانان ددې نه ویره لري چې کېدلای شي دغه پېښې د افغانستان عام خلک ددوی د قواوو پرضد نور هم وپاروي.

نیویارک ټایمز لیکي چې د کندهار دغه پېښه د دا ډول اندېښنو دلیل کېدلای شي.

د بس د پېښې نه وروسته سمدلاسه مظاهره چیان د بسونو تمځای کې سره راټول شول. دوی لارې بندې...

پاتې ٤ مخ

نگاهی به حوادث تاریخی ماه ثور

صفحه دوم

یوازې په ایماني او ملي روحیه روزل شوي پوځ د افغانستان دفاع کولی شي

دریمه صفحه

په کندهار کې د خصوصي امنیتي کمپنیو ساتونکي پر بې گناه کلیوالو ډزې کوي

په کندهار کې ځینې خصوصي امنیتي کمپنۍ چې د ناټو د اکمالاتو امن ټینگوي، د وسلوالو د حملو له وېرې، پر بې گناه کلیوالو ډزې کوي. په کندهار کې په دغسې پېښو کې گڼ کسان وژل شوي یا هم ژوبل دي. امریکایي چارواکي وایي، دغه کار له بهرنیو ځواکونو د خلکو ملاتړ کموي او په دې منځ کې ایجاد شوې فاصله لاپسې زیاتېږي.

په کندهار کې د خصوصي امنیتي کمپنیو ساتونکي چې د ناټو ځواکونو د اکمالاتو امن ساتي، کله چې له کلیو تېرېږي په پرله پسې ډول پر خلکو ډزې کوي، دا کار د ملکي افغانانو ملاتړ خپلولو په برخه کې د ائتلافي ځواکونو هڅې کمزورې کوي.

چارواکي وایي، دغه امنیتي کمپني پر کلیوالو په دې نیت ډزې کوي، چې سخت دریځي وسلوال ووېروي. له دې کبله کله- کله ملکیانو ته مرگ ژوبله اوړي، ...

پاتې ٤ مخ

په کابل کې سلگونو لاریون کوونکو په ایران کې دافغانانو اعدامول وغندل

لاریون کونکو داحمدي نژاد مجسمه وسوځوله او له افغانانو یې وغوښتل چې له ایراني توکیو سره مقاطعه وکړي

کابل، خبري رسنۍ:

په کابل کې سلگونو تنو کابل ښاریانو، چې یوشمېر ښځې هم پکې شاملې وې د یوې پراخې احتجاجي مظاهرې په ترځ کې په ایران کې د افغانانو اعدامول وغندل او دافغانانو داعدام د لړۍ او دهغوی د کورونو دسوځولو د صادرولو سره پای ته ورسېد.

لړۍ دودرېدو غوښتونکي شول.

دغه لاریون دثور په ۱۲مه، سهار ۸ بجې په کابل ښار کې د ایران دسفارت له دروازې څخه پیل شو اوشا او خوا لس نیمې بجې د نوي ښار په پارک کې د یوه پربکړه لیک په

لاریون کونکو گواښ وکړ چې که په ایران کې د افغانانو اعدامول بند نه شول نو دوی به نه یوازې په ټول هېواد...

پاتې ٤ مخ

مرکز ملی ضد تروریزم امریکا:

پاکستان و افغانستان خطرناکترین کشورها برای سربازان امریکا شدند

آمار شمار سربازان کشته شده و مجروح ارتش امریکا در افغانستان و پاکستان نشان مي دهد این دو کشور به خطرناک ترین محل برای سربازان امریکایی تبدیل شده اند.

افغانستانی ها و پاکستانی ها کشورشان را به خطرناک ترین جا برای سربازان امریکایی تبدیل کرده اند به گونه ای که یک نهاد امنیتی دولت امریکا ناچار شد به این موضوع اعتراف کند.

مرکز ملی ضدتروریسم در امریکا روز چهارشنبه گذشته گزارش داد آمار شمار سربازان کشته شده و مجروح ارتش امریکا در افغانستان و پاکستان نشان می دهد این دو کشور به خطرناک ترین محل برای سربازان آمریکایی تبدیل شده اند.

به گزارش ایرنا، یکی از مقامهای دولت بوش رییس جمهوري سابق آمریکا کوشیده، مخالفت مردمي با حضور اشغالگران در این کشورها را کمرنگ کند.

جوان زرات افزوده است افزایش حملات در افغانستان و پاکستان...

بقیه در صفحه ۴

پېښور کې د تښتول شوي افغان کونسل په تازه ویډیو کې د یوې اوونۍ ضرب الاجل

د صلاح الدین په نوم یوې ډلې د یکشنبې په ورځ په پېښور کې د افغانستان پخواني کونسل ښاغلی فراهي له څو میاشتو وروسته په یوه خپره کړې ویډیو کې وښود او ویې ویل چې که تر یوې اوونۍ پورې د دې ډلې غوښتنې ونه منل شي، فراهي به ووژني.

فراهي د ۲۰۰۸ کال د سپټمبر په دوه ویشتمه د پېښور په حیات اباد کې وتښتول شو.

فراهي په خپره شوې ویډیو کې وایې چې که د ده د یرغمل نیوونکو غوښتنې په یوه اوونۍ کې ونه منل شي نو وبه وژل شي خو په ویډیو کې دا وضاحت نه کېږي

پاتې ٤ مخ

وزیر دفاع فرانسه می گوید که کشته شدن افغانها توسط نیروهای آنها تصادفی است

پاریس، رسانه ها:

وزارت دفاع فرانسه در پی کشته شدن چهار نظامي بي گناه افغان در اظهاراتي به توجیه این اقدام ارتش خود پرداخت و آن را اتفاق تصادفی دانست.

روزنامه فرانسوی "نوول آبزرواتور "می نویسد که "اروه مورن "روز گذشته اعلام کرد: «من از بابت کشته شدن چهار غیرنظامی افغان توسط ارتش فرانسه درولایت کاپیسا به شدت متأسفم.»

وي افزود: «من در پی کشته شدن این غیرنظامیان نامه‌ای خطاب به "حامد کرزی " رئیس جمهور افغانستان نوشتم تا همدردی خود با خانواده‌های قربانیان را به وی اعلام کنم و به ایشان بگویم که مرا در غم خود شریک بدانند.»

وزیر دفاع فرانسه در ادامه تصریح کرد: «این نخستین بار است که چنین اتفاقی رخ داده است و ما از این بابت بسیار متأسفیم اما باید بدانید که این اتفاق کاملا تصادفی بوده است و نظامیان ما در این حادثه مقصر نبوده‌اند.»

ارتش فرانسه در جریان درگیري مشترک روز دوشنبه گذشته نیروهاي فرانسه و افغان علیه شورشیان چهارفرد ملکی افغان را از پا در آورد.

سخنگوي ارتش فرانسه در اظهاراتي در خصوص چگونگي وقوع این اتفاق اعلام کرد: «افراد که سن آنها بین ده تا پانزده سال بوده، در نزدیکی نیروهاي شورشي که نیروهاي فرانسوي با موشک میلان به آنها حمله می کردند، قرار داشته‌اند و ترکش های این موشک‌ها به آنان اصابت کرده است و بر اثر شدت جراحات وارده جان باخته‌اند.»

فرانسه سه هزار و ۷۵۰ نیرو در افغانستان و کشورهاي منطقه دارد که بیش از سه هزار و ۵۰۰نفر از آنها در خاک افغانستان مستقر هستند.

روزنامه کانادایی اتاواسیتیزن:

افغانستان به بازاری داغ برای فروش تسلیحات نظامی مبدل شده است

اوتاوا، رسانه ها:

علیرغم سپری شدن چند سال ازآمدن ارتش امریکا و سازمان ناتو به افغانستان، نه تنها کاهشی در تعداد نیروهای نظامی خارجی دیده نشده است بلکه هر روز بر شمار سازمانهای پیمانکار نظامی خصوصی در این کشور جنگ زده افزوده می‌شود.

روزنامه کانادایي "اتاوا سیتیزن "اخیرا گزارش داد نیروهای خارجی مستقر در افغانستان در ماه‌های اخیر در بسیاری از جاده‌های اصلی و شاهراههاي این کشور جنگ‌زده پرسه می‌زنند و عبور و مرور عراده جات شخصی و غیرنظامی مردم افغانستان را کنترل مي کنند و گزمه های مداوم آنها در خیابانها و جاده‌های این کشور ادامه دارد.

در تصاویر شهرها و مناطقي که در فیلم‌های خشن هالیوودی جدید به تصویر کشیده بخش عمده این نظامیان غربی تا به دندان مسلح، صورت های خود را با نقاب (ماسک) پوشانده‌اند که آنها را تا حد زیادی به افراد مسلحی که در این گونه فیلمهای خشن نشان داده می‌شود شبیه کرده است.

نظامیان خارجي مستقر در جاده‌هاي افغانستان مقادیر زیادي از تجهیزات مرگبار نظامي مجهزند که ظاهر نامطلوب و کاملا خشنی از آنها به نمایش می گذارد.

با توجه به افزایش نیروهاي غربي در افغانستان در ماههاي اخیر، خرید و فروش تسلیحات نظامی در این کشور جنگ زده از رونق بسیار بالایی برخوردار شده و به یک بازار بسیار داغ برای فروشندگان سلاح تبدیل شده است.

نگاهی به حوادث تاریخی ماه ثور

اعزامی

وقوع حوادث تلخ و شیرین در ماه ثور، طی سه دهۀ گذشته در تاریخ کشور ما جایگاه خاص و فراموش ناشدنی دارد، این حوادث که به تاریخ ۷ ثور ۱۳۵۷ و ۵ و ۸ ثور ۱۳۷۱ به وقوع پیوسته اند، هر یک آنها یادآور خاطرات ماندگار در کرونولوژی این سرزمین بحساب می رود.

حادثه ۷ ثور ۱۳۵۷ تقریباً به اتفاق قاطبۀ ملت افغان، به عنوان یک رویداد شوم و ننگین در تاریخ کشور ما ثبت گردیده و بدبختی، ویرانی و آوارگی افغان ها در جریان سه و نیم دهۀ اخیر بحران افغانستان، از همان روز آغاز گردیده است. آحاد مردم، به جز مشت قلیل کودتاچیان ۷ ثور، فاجعه مزبور را، لکۀ ننگ بر جبین تاریخ درخشان این سرزمین می دانند. درین روز بنابر نقشۀ از قبل طراحی شدۀ زمامداران وقت کرملین، نظامیان وابسته به جناح های چپ وابسته به ماسکو، علیه رژیم داؤد خان، دست به کودتا زدند و عوامل رژیم مزبور بنابر غفلت، بی کفایتی و تبانی قبلی با کودتاچیان غافلگیر شدند.

فاجعه ۷ ثور ۱۳۵۷ سرآغاز جنگ و ناامنی در سه ونیم دهه تاریخ اخیر کشور به شمار می رود، رفقای انقلابی و تازه به قدرت رسیده که به زور بازوی اربابان، با سردادن شعارهای دهان پرکن و بی محتوای اعمار جامعه بدون طبقۀ عاری از دین را به مردم وعده می دادند با درک و شناخت ضعیف از روحیات و تاریخ مردم افغانستان، در اولین تصمیم، ارزش های دینی و اخلاقی ملت مسلمان افغان را به باد استهزا گرفتند و با شتاب زدگی عجیبی به ویرانی کیان معنوی جامعه پرداختند، برخورد تند این دولتمردان تازه به دوران رسیده با معتقدات دینی مردم، بزودی با مخالفت شدید مردم مسلمان مواجه شد و جوانه های قیام درمیان همه اقشار و طبقات ملت مسلمان روئیدن گرفت. هجوم قشون سرخ اتحاد شوروی وقت به تاریخ ۶ جدی ۱۳۵۸، قیام و مبارزۀ نامنظم و پراگنده رزمندگان را به انقلاب عظیم، توفنده و مواج مقاومت و جهاد تبدیل کرد و رژیم کمونیستی به رغم تجاوز نظامی قشون سرخ و باوجود انعطاف پذیری ها و چهره عوض کردن های پی در پی و مضحک گردانندگان آن، بالاخره پس از ۱۴ سال حکمروائی ظالمانه، در هفتۀ اول ماه ثور در سال ۱۳۷۱ توسط مجاهدین منقرض گردید.

به یقین گفته می توانیم که در بارۀ نحوست فاجعه ۷ ثور در میان تمامی طبقات و اقشار مردم و احزاب سیاسی کشور ما اختلافی وجود ندارد و همه به یکصدا فاجعه مزبور را محکوم می کنند، آنچه که اسباب اختلاف و بگو مگو میان احزاب جهادی را فراهم نمود و بعدها به جدل و کشمکش میان ایشان منجر شد، مربوط به حوادث و اتفاقاتی می شود که از آن تاریخ به بعد رخ داد، کودتاچیان با کاربرد حیله و نیرنگ، به سه دسته منقسم شدند: یک گروه ایشان با کنار رفتن از میدان سیاست و معرکۀ جنگ، به صف مردم عام پیوستند، دو گروه دیگر ایشان که در میان مردم جا نداشتند، با پیوستن به دو جناح مجاهدین، سبب درد سر و اشتعال فتنه در میان جناح های جهادی گردیدند، ایشان با کاربرد این توطئه از یکسو خود شان را به سلامتی و عافیت از چنگ دادگاه عدل اسلامی نجات داده و با خاطر آسوده به کشورهای خارجی فرار کردند و از سوی دیگر، بدان وسیله گروه های جهادی را چنان بجان همدیگر انداختند که تا سالهای سال آنها مجال آن را نیافتند که جویای پروندۀ گذشته و حال کودتاچیان ۷ ثور شوند و در عوض، خود شان مصدر خیلی از مصائب شدند.

زندان مخوف پلچرخی که در زمان حکمرانی کودتاچیان ۷ ثور مملو از فرزندان نهضت اسلامی و مجاهدین و معززین مسلمان بود، در زمان حکمرانی مجاهدین نیز مملو از افراد جناح های رقیب بود و حتی تا امروز کسی سراغ ندارد که فعالین آغشته به جرم و جنایت آن دوره به زندان پلچرخی آورده شده باشند، در بحبوحۀ صف آرایی و تهدیدهای جناح های مجاهدین در هفتۀ اول ثور سال ۱۳۷۱ برای تصرف کابل، وقوع حوادث ۵ ثور و ۸ ثور، فاجعۀ ۷ ثور را کمرنگ کرد، زیرا وساطت میانجیگران برای ایجاد توافق و تفاهم میان دو جناح مجاهدین در سقوط دادن رژیم در حال احتضار داکتر نجیب الله بجائی نرسید و جناح های مجاهدین با رخنه کردن از دو سمت جنوب و شمال پایتخت، عزم تصرف شهر کابل را کردند، بقایای رژیم سابق، در هر دو دروازۀ شهر به مؤتلفین خود چراغ سبز نشان می دادند تا هر چه زود تر بیایند و درفش پر افتخار فتح و نصرت را به نام خود ثبت نمایند. ورود بی رویه و ناهماهنگ مجاهدین به کابل، موجب اصطکاک فیمابین آنها شد و بقایای رژیم در هفته اول ثور با بازی کردن نقش (حمالة الحطب) تماشاچی زد و خورد مجاهدین در داخل شهر بودند، آنها ظاهراً ازین جناح و یا آن جناح حمایت می کردند، ولی نقشۀ اصلی شان، تضعیف و نابودی مجاهدین بوسیله خود شان بود.

اکنون که در سی و دومین سالروز کودتای ۷ ثور و هژدهمین سالروز واقعۀ ۸ ثور (سقوط رژیم نجیب) قرار داریم و کشور ما پس از ۲۲ سال جنگ و بحران، فراز و نشیب های عدیدۀ را پشت سر گذاشته، و امروزه اوضاع و شرایط با حالات آن زمان فرق کرده است، لهذا ایجاب می کند تا تعبیرهای سلیقوی و گروهی از حوادث گذشته را کنار بگذاریم و همه به اتفاق هم به مجاهدت ها و قربانی های نیاکان آزاده و رزمندگان دلیر ملت خود در برابر اعوان ظلم و کفر ارج بگذاریم و پیروزی جهاد مردم مسلمان افغانستان را در مقابله با رژیم دست نشاندۀ کرملین و قشون سرخ، به تاریخ ۸ ثور تجلیل نمائیم. این ذهنیت یقیناً که گرهی خیلی از مشکلات و مصائب جاری کشور ما را می گشاید و زمینه برای پایان یافتن بحران فعلی مساعد می شود وگرنه باید بخاطر داشته باشیم که تاریخ منهای فشار و خفقان و بدون هراس از عوامل خارج و داخل، قضاوت سالم و بیطرفانۀ خود را در قبال کارنامه های همگان خواهد کرد.

سرلیکنه — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ایران دی له افغان مهاجرینو سره د انصارو سلوک وکړي

د تیری یکشنبې په ورځ سلگونو افغانانو په کابل ښار کې د ایران سفارتخانې مخې ته له قهره ډکه پراخه مظاهره وکړه، دغو قهرېدلو مارش کوونکو مرگ پر ایران او مرگ په احمدي نژاد د شعارونو ترڅنگ له ایراني چارواکو څخه غوښتنه وکړه چې په ایران کې د افغان مهاجرینو له پانسي کولو او دهغوی له ځورولو څخه ډډه وکړي.

گرانو لوستونکو ته څرگنده ده چې ایراني چارواکو د تیرو څو کلو راهیسې هلته میشته افغان مهاجرینو په خلاف له کرکجنه ځوروونکي اعمال په کار اچولي دي. داسې کال، میاشت او ورځ نه ده تیره شوی چې ایرانی پولیسو افغان مهاجرین وهلي، ډبولي او ځورولي نه وي، چېرته یې له بامونو لاندې غورځولي او پښې لاسونه یې وربانـدې مات کړي او چېرته په کورونو کې ورننوتي او هغوی یې دومره ډبولي دي چې ډېرو خپل ژوند له لاسه ورکړی او لسگونه نور ټپیان شوي دي. ډېره بوگنونکی هغه پیښه ده چې څو اونۍ وړاندې دیزد په ښار کې د پولیسو په ملگرتیا د یو مسجد د امام په فتوه سلگونه ځایي اوسېدونکو ایرانیانو د افغانانو پر کورونو یرغل وکړ او د څو تنانو د وژلو ترڅنگ یې په لسگونو نور یې د مرگ تر حده ووهل، دهغوی ټوله شتمنۍ لوټ او د کور سامان یې ورته مات کړ، په ځانگړې ډول د افغانانو د زغم کاسه هله ډکه شوه چې په یو ځل دهغو پنځوسو افغانانو مړي افغانستان ته واستول شول چې په ایران کې د مدافع وکیل پرته په مرگ محکوم او په دار ځړول شوي وو. د رسنیو په وینا سلگونه نور افغانان هم په مرگ محکوم شوي دي.

د ایران چارواکو دغه کړنه داسې اقدام دی چې برائت لپاره هیڅ ډول توجیه او تاویلات ورته نشي پیدا کیدلې. کیدی شي د انسان په توگه افغان هم په ایران کې د یوې گناه مرتکب شي مگر گنهگار ته سزا ورکول باید هم قانون په رڼا کې ترسره شي او د قانوني مراحلو له ترسره کیدو وروسته دې ورته سزا ورکړی شي خو ډېر افسوس چې ایراني پولیس له قانوني اجرأتو پرته افغانان په سرکونو، بازارونو او خپلو کورونو کې نیسي، لاسونه پښې وربانـدې ماتوي او له مدافع وکیل پرته د مرگ په سزا له محکومولو وروسته په دار یې ځړوي.

د ایراني چارواکو له دغې کړنې نه یواځې همدا حقیقت په گوتـه کیږي چې هغوی د افغان مهاجرینو په خلاف لـه امتیـاز نـه ډک غیر عادلانه سلوک څخه کار آخلي او افغانانو ته د بشر په سترگه نه گوري. په داسې حال کې چې افغانان نه یواځې دا چې د ایرانیانو په څیر انسانان او د انساني حقوقو حقدار دي بلکې مسلمانان او د ایرانیانو نږدي گاونډیان هم دي.

الله تعالی انسان ته لوی کرامت او اهمیت ورکړیدي، دهغه وژل، ځورول او سپکول یې حرام گرځولي دي. د ایران اولس او چارواکي چې د اسلام او مسلماني ادعا کوي نه ښایي دداسې ظالمانـه اعمالـو ارتکاب وکړي چې د اسلام په سپیڅلي دین کې مطلقاً حرام گرځول شویدي. ایراني چارواکي او اولس په دې حقیقت هم ښـه پوهیږي چې افغانان هلته د مهاجرینو په توگه ژوند تیروي او اسلام له مهاجرینو سره د مرستې او ښه سلوک امر کړیدي.

که چېرته ایرانی ولس له خپلو مهاجرو ورونو سره د مدینې د انصارو سلوک نشی کولي نو لږ تر لږه ظلم او تیری خو دې وربانـدې نه کوي.

ایراني چارواکی دې دا حقیقت هم په پام کې ونیسي چې افغانستان او ایران دوه نږدي گاونډي هیوادونه دي، د دواړوه گټه پـه دې کې مضمره ده چې پخپلو کې د دوستۍ او وروري نه شـلیدونکي اړیکی ولري او په هر مشکل وخت کې د یو بل مرسته او ملاتړ وکړي.

د دوه گاونډي اسلامي هیوادو اولسونو ترمنځ چې د اختلافاتو او نفرتونو خلیج څومره پراخیږي گټه یې بل چاته او نقصان یـې د دواړو هیوادو ولسونو ته رسیږي.

ښه به دا وي چې د زمکنیو حقایقو او د وخت او زمان د شرائطو په پام کې نیولو سره له ټولو هغو اقداماتو څخه کلک پرهیز وکړی شي چې دوه نږدی گاونډي هیوادونه د دښمنۍ په پوله ودروي او د دواړو هیوادو شریکو گټو ته تاوان رسوي.

یواځې په ایماني او ملي روحیه روزل شوي پوځ د افغانستان دفاع کولې شي

محمد خلیل

تیره اونی په استونیا کې د ناټو د غړو هیوادو خارجه وزیران په دې خبره سلا شول چې د افغانستان امنیتی چارې په مرحله واله توګه افغان ځواکونو ته وسپاري او په مناسب وخت کې خپل پوځیان په کلاره کلاره له افغانستان راوباسي.

که څه هم هغوی له افغانستانه د خپلو پوځونو د ویستلو آخری نیټه چې څومره کلو کې به راوباسي نه ده ښودلې خو په کال دوه زره یولسم کې د خپلو پوځونو د ویستلو نیټه ضرور په ګوته کړی او دا یې په ډاګه کړیده چې له افغانستانه د خپلو پوځونو بشپړه انخلا به د افغان ځواکونو د پوره قابلیت او ظرفیت د ښودلو په صورت کې ترسره کیږي.

د ناټو غړو هیوادو له دې فیصلې نه دا حقیقت په ډاګه کیږي چې هغوی په داسې شرایطو کې له افغانستان نه د وتلو اراده لري چې دهغوی له وتلو وروسته افغانستان یو ځل بیا د کورنی جګړې ډګر ونه ګرځي، او پردي هیوادونه ونشي کړې چې په افغانستان کې لاسوهنې وکړي او هلته بې ثباتي او ناامنی رامنځته کړی.

دې لپاره چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ژر تر ژره ووځي او افغانان راتلونکی له پاره د بهرنیانو د مداخلې ښکار نشي نو دغو څو کارونو ته جدي پاملرنه پکار ده.

لومړی دا چې په افغانستان کې د انتخاباتو له لاری د افغانانو صحیح نماینده حکومت جوړ شي او هغوی ته بشپړ اختیار ورکړی شي چې خپل ټول مسایل له خارجي فشار پرته پخپله حل کړي، بهرنی هیوادونه د افغانستان په چارو کې له هر ډول لاسوهنې او د خپلې خوښی له تحمیلولو څخه په کلکه ډډه وکړي.

دویم دا چې افغاني ځواکونه په مدرنو او پرمختللیو وسلو سنبال کړې شي، دهغوی پوځي پالنه او تربیت په داسی اوچته سویه وشي چې د نوې زمانې د جنګي چلنجونو په مؤثر ډول دفاع وکړی شي، پوځ او پولیس ته په دوام داره توګه دومره معاشونه او نور سهولتونه ورکړی شي چې هغوی د خپلې کورنی ضروریات پوره کړي، هغوی ته دا ډاډ ترلاسه شي چې که هغوی د خپلې خاوری د دفاع او خپلواکی لپاره خپلی وینې تویوي نو لږ تر لږه دهغوی ماشومانو او پس مانده ګانو ته خو یو نوړی ډوډۍ رسیږي.

دریم دا چې: ددولت مخالفینو ته په صحیح معنی د زړه له کومې بلنه ورکړی شي چې هغوی په حکومت کې سهیم شي، هغو ته قناعت ورکړی شي چې هغوی هم ددې خاورې وارثین او زامن دي.

څلورم دا چې: په یو داسې میکانیزم دې کار وکړی شي چې ټول افغانان د اتفاق او یووالې په درشل کې ودروي مثلاً په دې کار دې توافق وشي چې د افغانستان قانون به په سلو کې سل اسلامي وي او داسې هیڅ یوه توری او اصطلاح به نه کارول کیږي چې د اسلام له روح څخه مخالفه وي.

✱ د انتخاباتو قانون، طریقه او کړنلاره دې د ټولو لوریو په سلا مشوره تصویب شي تر څو راتلونکی لپاره دا جګړه او اختلاف پاتې نشی چې په افغانستان کې څه ډول حکومت پکار دی؟

✱ په دې خبره دې ټول سلا شي چې د هیواد، خاورې، عقیدی او استقلال ساتنه په هر یو افغان یو شانتې فرض دی او ټول باید په یو غږ هر وخت او هره شیبه د خپل ددغه لوی فرض د ترسره کولو لپاره چمتو وي.

✱ په دې خبره دې هم توافق وکړی شي چې تر څو په افغانستان کې په ایمان سنبال یو مضبوط پوځ او پولیس نه وي جوړ شوې او هغوی پخپلو پښو نه وي ودریدلې افغانستان د بهرنیو هیوادو د هر اړخیزې لاسوهنې څخه په امن کې نشي پاتې کیدلې او افغانان په داسې حالت کې د بهرنیو له مرستې پرته ددې توان نلري چې د مغرضو هیوادو د لاسوهنې مخه ونیسي او یا هم په هیواد کې مضبوط حکومت پاتې شي.

✱ په دې حقیقت هم باید اعتراف وکړی شي چې یواځې په زور او جبر سره نه یواځې دا چې پایدار او مستحکم حکومت نشي جوړیدلې بلکې هغه د اولس مسایل او ضروریات هم نشي حلولې.

✱ دا فکر او عقیده دې هم له دماغه وویستل شي چې یواځې یو نژاد، یو تنظیم او یا هم د اسلام له دین پرته بل فکر او نظریه په افغانانو د حکومت کولو حق لري. افغانستان یو اسلامي هیواد دي او اکثر وګړي یې له اسلام او اسلامي حکومت پرته بل هیڅ ډول حکومت او نظام ته غاړه نه ږدي لهذا هر افغان باید په افغانستان کې د اسلامي حکومت پرته د بل هیڅ ډول حکومت د جوړولو کوښښ ونه کړي ځکه چې اولس دداسی حکومت د اطاعت پر ځای مخالفت یې کوي او په دې توګه افغانستان له عدم استحکام سره مخامخ کیږي.

موږ افغانان باید دا واقعیت ومنو چې زموږ د ډېرو ګوندونو مشران، سیاست پوهان، سپین ږیرې، علماء او قومي مشران تر ننه په یو داسې میکانیزم نه دي متفق شوي چې هغه واقعاً د یو مضبوط حکومت، مضبوط اقتصاد، غښتلی دفاع او ملي وحدت د تأمین لپاره محور وګرځي، څرګنده خبره ده چې تر څو افغانان د دغه مشکل د حل لپاره پخپله عملي ګامونه اوچت نکړي بل هیڅوک د افغانانو دغه مسایل نشي ختمولې.

دا یوه ناقابل تردید حقیقت دی چې بهرني ځواکونه تر ډېره وخته په افغانستان کې نشي پاتې کیدلې او نه هم ددې توان لري چې تر اوږدی مودی ځاني او مالي تاوانونه وزغمي، هغوی نن وي که سبا له افغانستانه اوځي او افغانستان افغانانو ته پریږدي، خو دا واقعیت هم باید له پامه ونه غورځول شي چې که چېرته له همدې نن نه افغانان خپل منځي اختلافات ختم نه کړي او د خپلی راتلونکی په اړه یوه متفقه عملي کړنلاره او لایحه جوړه نکړي نو نه یواځې دا چې راتلونکي افغانستان به د جنګونو او خپل منځي وژنو ډګر وي بلکې ددې امکان هم لیری نه ده چې مغرض او شوم عزایم لروونکی ګاونډي هیوادونه به افغانستان تجزیه او خپلو خپلو هیوادو کې مدغم کړي. دې لپاره چې افغانان نور خپل منځي جګړو له اور نه محفوظ پاتی شي او د نورو هیوادو لاسوهنې بندې شي نو لدې پرته بله چاره نه لري چې افغانان په حقیقی معنی د خپلو موجوده مشکلاتو د ختمولو لپاره په پوره اخلاص را جرګه شي، د یو بل دلاندی کولو او د زیاتو امتیازاتو د ترلاسه کولو د ناروا هڅو پر ځای دی د ټولو پرګنیو حقوق او هیوادوالو ښه مستقبل په پام کې ونیسي. خاوره، عقیده، قانون، استقلال او اتفاق هغه بنسټیزې توکي دي چې د اولس عزت، ابرو او ښه ژوند ضمانت ورکوي. که الله مکړه د یو هیواد اوسیدونکی له دغو مهمو توکو څخه محروم وي نو هغوی د ژوند له هر ډول نعمتونو څخه بی برخی او د غلامی کچکول په غاړه ګرځوي.

ایا دا به ښه نه وي چې نور د حماقت او ضد له نیلی نه کوز او د بل چا د ملامتولو پر ځای خپل ملامتي ومنو او د حق او حقیقت لاره خپله کړو.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

نوی مسلمان شوی امریکایی، عمر فاروق عبدالله

زه په ۱۹۷۰ کال کې مسلمان شوم تر دې وړاندې کورنیل په پوهنتون کې د انګلیسی ادبیاتو محصل وم لدې مخکې په لیسه کې د زده کړی په وخت زه د تاریخ د ځانګي زده کوونکی وم، زما د عیسویت د ابتدایي تاریخ سره هم زیاته مینه وه په ځانګړی توګه مې د اریایانو د تاریخ سره ځکه زیاته مینه وه چې دهغوی په عقیده کې د عبادت وړ یو خدای ګڼل کیده.

بله دا چې زه پدې پوه شوم د دری خدایانو منلو تصور حضرت عیسی علیه السلام نه دې وړاندې کړی، زما پلار یو معلم و او په حیاتي کیمیا او د حیواناتو په علم کې یې دکتورا کړی و هغه هم یو خدای مانه او د دریو خدایانو د منلو مخالف وه.

د فلسفی او ادب مطالعي زما په فکر کې ژوروالې او پوخوالې پیدا کړ. پدې وخت ما ته LEIBNITZ او SPINOZA د لوستلو فرصت په لاس راغي.

ددې دواړو په لیکنو کې چې د توحید کوم تصور موجود و هغې زما توجه ځانته راواړوله، په انګریزي ادبیاتو کې زه د جان ملټن نه زیات متاثر یم.

او زه هغه د انګریزي ادب یو لوړ شاعر ګڼم د جان ملیټن په وروستی شاعری کې د یو خدای د منلو زیات اثرات ښکاري ددې په شاعري کې د جنت ښکلی او د دوزخ ناوړه تصویر تر سترګو کیږي. ملټن نه یواځې دا چې د یو خدای جل جلاله د منلو خبره کړی بلکې جنت ته د داخلیدو له پاره د حضرت عیسی علیه السلام تایید ضروري نه ګڼي ملیټن د یوناني، عبراني او لاتینی ادب د مطالعی وروسته دې نتیجی ته ورسید چې له یوې نه د زیاتو ښځو سره واده کول د بایبل خلاف نه بلکې دهغوی د عقیدی مطابق دی د ملیټن تر مطالعی وروسته مشهور سیاسي شخصیت ملکم ایکسن چې هغه مسلمان شوي و او اسلامي نوم یې الملک الشهباز و او وروسته ووژل شو دا وړاند وینه کړی وه چې د توحید)یو خدای(په منلو کې ټولیز توپیرونه له منځه ځي.

تر دې دمخه ما د اسلام په هکله پوره معلومات نه درلوده او د اسلام په باره کې مې غلط تصور درلود خو کله مې چې د اسلام پوره مطالعه شروع کړه نو زما هغه تصور یو غلط تصور ثابت شو او په دې خبره هم پوه شوم چې داسلام دین د حضرت ابراهیم علیه السلام دین دی دا دین یواځې د عربو پورې محدود نه دی بلکې د نړۍ د نورو هیوادو لکه پاکستان، هند، اندونزیا، بنګله دیش، افغانستان او نورو هیوادو د خلکو دین دی ما دا وخت د قرآن الکریم یوه انګریزي ژباړه پیدا کړه چې په هغې کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په هکله هم زیات معلومات وو ماته دا ثابته شوه چې هغه یو حقیقی پیغمبر دی ځکه په بایبل کې چې د پیغمبرانو کومې ځانګرنې یادی شوي دی دا ټول په هغه کې په هغه کې موجود وو په کومه ورځ چې زه مسلمان شوم هغه ورځ اتفاقي د جمعی ورځ وه زما مسلمانیدل د کوم مسلمان د دعوت او مرستي پرته وه او دا هر څه زما د خپلې مطالعې له لاری شوي.

تر مسلمانیدو وروسته می له ایم ایس ای او نور مسلمانانو سره اړیکی پیدا شوي ایم ایس ای یوه مسلمانه ټولنه ده او ددې ټولنې په کلنی غونډو کې مې د ګډون سره د اسلام حقیقی روح تر سترګو شو. دلته مې د نړۍ د زیاتو هیوادو مسلمانان ولیدل چې د مختلفو ژبو او نژادونو درلودونکی وو خو د افسوس خبره داده چې په یوه مسلمانه کورنی کې پیدا شوي ډېر مسلمانان د اسلام او مسلمانانو سمه نمایندګی نشي کولاي او د خپل دین نه پوره خبر نه دي.

زه پدې هم پوه شوم هغه مسلمانان چې په خپل دین ولاړ او دهغه صحیح منونکی دي هغوی نیک او صالح خلک دي کوم چې په خپل دین سم ولاړ نه دي هغه پست خلک دي. د قومیت په هکله زما نظر دا دي چې هر قوم ځانګرنه لري د یو قوم خلک د بل قوم په خیر کیداي نه شي خو د هر قوم وګړي کولای شي چې مسلمان شي مانا دا چې اسلام کې د قوم څه خاص ځاي نشته.

مشهور مؤرخ ارنلډتاین ویلی چې د شلمی پیړۍ تر ټولو لوی لعنت قوم پرستی دی هغه وایی: قوم پالنه یوه خطرناکه ناروغی ده چې د قومونو ترمنځ د جګړو باعث ګرځي.

د اسلام بنیاد په قومیت نه دی ولاړ بلکې په ربښتینې عقیده ولاړ دي قومیت پالنه په حقیقت کې د یهودانو کار دی په یهودو کې دا شرط ضرور دی چې هر یهود دی په یهودي کورنی کې پیدا شوي وي مګر هر څوک خویه یهودی کورنی کې نه شي پیدا کیدلې ددې برعکس مسلمان جوړیدو لپاره دا ضروری نه ده چې د کوم هیواد قوم ژبې او مذهب سره تړاو لري بلکې دا د انسانیت دین دي او د ټولو لپاره یې غیږه خلاصه ده.

په آخر کې زما پیغام دا دي چې هر څوک چې غواړی مسلمان اوسي باید د اسلام پوره تابع داری وکړي او سم مسلمان شي.

شهادت جريده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه

د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله کامه وال

مرستيال: عبدالخليل (محمد خليل)

اړيکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د پکتيکا اوسيدونکی الحاج کفيل سدوزی د نامعلومو وسله والو له خوا په شهادت ورسيد

د حزب اسلامي پخوانی قوماندان کفيل سدوزی د تيری يکشنبې په ماسپښين په پکتيکا کې د غويي په دولسمه نېټه د نامعلومو وسله والو له خوا د خپل کلي له مسجد څخه را ووېستل شو او سبا سهار دهغه مړی د کلي په خوا کې په داسې حالت کې ومونډل شو چې جسد يې د کلاشنکوف په گوليو غلبيل شوې و.

شهيد کفيل سدوزی د غويي له کودتا مخکې د افغانستان په اردو کې صاحب منصب و خو د کمونستي کودتا وروسته پاکستان ته هجرت وکړ او هلته د څو مياشتو له اوسيدو وروسته له خپلو مجاهدو ورونو سره يوځای پکتيکا ته راغی او هلته د قوماندان په توگه د کمونستانو په خلاف په جهاد لاس پورې، او د کمونست حکومت تر ړنگيدو پورې په آرامه کښيناست.

شهيد سدوزی د پکتيکا ولايت وازی خوا ولسوالي د مينځو د کلي اوسيدونکی و. نوموړی نه يوازې د الله د لارې ستر مجاهد او قهرمان و، بلکه د الله پر دين مين او د اوچتو اخلاقو درلودونکی هم و لوی الله دې ورته په جنت الفردوس کې ځای ورکړي.

(آمين)

شفاف انتخابات د مستحکم حکومت ضمانت ورکوي

عبيدالله صافی

د پارلماني انتخاباتو د شفافيت له پاره هر ډول حکومتي هلې ځلې د ستايلو دي، د انتخاباتو له لارې د پارلمان غړي ټاکل او اولس ته د خپلې خوښې د نمايندگانو د غوره کولو حق ورکول دا معنی لري چې د ولسي جرگې غړو ته په حقيقت کې د خپل اولس د وکالت دنده سپارل کيږي نو ځکه هر هغه حکومت او پارلمان چې د اولس د مستقيمو آراو په نتيجه کې منځ ته راغلی وي هغه ته ولسواک او ملي پارلمان ويل کيږي.

انتخابات چې څومره شفاف او له هر ډول تقلب څخه پاک وي له حکومت او پارلمان سره د اولس باور او ملاتړ همغومره زيات وي، ښکاره خبره ده چې کوم حکومت د اولس ملاتړ له ځانه سره ولري هغه په هر ډگر او هره ځانگه کې برياليتوبونه ترلاسه کوي، او کوم يو حکومت، يا پارلمان چې له اولسي ملاتړ او تاييد څخه محروم وي هغه د ژوندانه په هر يو ډگر کې وروسته پاتې وي. په افغانستان کې چې د اولس په خوښه د اولسمشر او د ولسي جرگې د غړو د چاڼ او غوراوي لپاره د انتخاباتو کوم قانون جوړ شوی دی هغه بايد د عمل په ډگر کې هم پلې کړی شي، داسې کوم سازش، چل او فريب دې په کار وانچول شي چې دهغه له لارې د اولس رای سبوتاژ او بې اثره شي، ټول هغه موثر او مثبت گامونه دې اوچت کړی شي چې د انتخاباتو د شفافيت لپاره موثر ثابتيږي.

په انتخاباتو کې درغلي کوونکی ته دې که هغه پخپله کانديد وي او يا هم دهغه حواريون داسې سخته سزا ورکړي چې راتلونکی ته هرچا له پاره د عبرت درس وگرځي.

په حقيقت کې انتخابات نه ټوقی دي او نه هم مسخرې چې دهر چا زړه وغواړي سپکاوې يې وکړي او د خپل زر، زور او اقتدار نه يې لوگی کړي.

دا واقعيت بايد په سر ستر گو ومنل شي چې د اولس آراء او د هغوی د آراو په نتيجه کې د اولسي جرگې د غړو ټاکل اصلاً د يو مضبوط حکومت بنسټ اوچتول دي هر هغه اولسي جرگه چې د اولس د آراو په نتيجه کې نه وي تشکيل شوی او د زر، زور او ټگی له لارې قايمه شوې وي هغه د اولس د هيڅ درد دوا نشي کولې، ځکه چې هغه د اولس نماينده او ځواب ورکوونکی نه وي، او نه هم ددې پروا کوي چې د ملت گټه او تاوان په څه کې دی؟

حکومت او ولسي جرگه د اولس د ملا تير حيثيت لري، هر هغه څوک چې د اولس آراء د غصبولو ناوړه جرئت کوي هغوی د اولس ملا تير ته درنه ضربه ورکوي او ماتوي يې.

رای ورکوونکو ته هم پکار دي چې د رای له ورکولو نه وړاندې له بشپړ غور او دقت نه کار واخلي خپله رای دې هر هغه چاته ورکړي چې دهغه ايمانداري او ديانت داري مسلم وي خواخوږې او مهربان وي، له خپل هيواد، ولس، استقلال، عقيده او ناموس سره مينه لرونکې وي. جاه طلب، خود غرض، ظالم او ماده پرست نه وي. رای ورکوونکی دې خپله رای هسې تشه پاڼه ونه گڼي چې په پټو ستر گو صندوق ته واچوي، بلکې رای دهغه ايمان او امانت دی، رای ورکوونکي کولې شي چې د خپلو آراو له لارې په هيواد او اولس کې مثبت انقلاب راولي او د خپل هيواد سرنوشت د نيکو، مخلصو، ايماندارو او ديانتدارو اشخاصو ته وسپاري. خو ډېر افسوس چې زموږ ډېر هيوادوال تراوسه د انتخاباتو اهميت نه دی پيژندلی او په دې نه پوهيږي چې دهغوی رای ډېر قيمتي او سرنوشت جوړوونکې دی، له انتخاباتو نه څو مياشتی وړاندې بايد د انتخاباتو او آراو د اهميت په اړه د پوهاوي زبردست کمپاين وچلول شي.

رسنۍ، علماء، ليکوالان او استادان په پوره پاملرنه کوښښ وکړي چې د اولس په وړاندې د آراو د صحيح استعمال اهميت واضح کړي، او رای ورکوونکی ديته وهڅوي چې په بشپړ ايمانداري سره خپلی رای استعمال کړي.

په دې لړ کې حکومت هم مسؤول دی چې پارلماني ټاکنو کې يواځې داسی اشخاصو ته د ودريدو اجازه ورکړي چې هغوی خپل ژوند د خپلې عقيدې، خاورې، استقلال او اسلامي نظام د قيام لپاره وقف کړي وي، ښه ماضي او ښه شهرت ولري، د پرديو د غلامي زنځيرونه په غاړه کې نه گرځوي او د څو ټکو لپاره په بل چا نه خرڅيږي.

که چېرته حکومت هم د خپل مسؤوليت له ترسره کولو نه ډډه کوي او داسې بې مسؤولو او بې بندبارو کسانو ته د ودريدو اجازه ورکوي چې نه ښه سابقه لري او نه هم له خپل عقيدې او خاورې سره وفاداري نو بيا پخپل لاس ديته لاره هوارول دي چې د افغانستان سرنوشت د بد مستو فيلانو او ځنگلي ځناورو په واک کې ورکړ شي ځکه چې له يو غل او بې ايمانه څوکيدار نه کله هم ددې تمه نشي کيدلې چې هغه د کور صحيح څوکيداري وکړي. نو ځکه دولت او اولس دواړه گډ مسؤوليت لري چې اولسي جرگې ته د ودريدو جواز يوازې هغه چاته ورکړي چې له هغه نه د هيواد او ولس د خدمت توقع کيدلې شي او ولس هغه څوک خپل نمايندگان وټاکي چې هغوی واقعاً د خپل اولس د نمايندگی او وکالت بشپړ اهليت لري.

د امريکايي عسکرو ډزي ...

کړې او د مړه دې وي امريکا او مړه دې وي کافرانو په نارو پيل وکړ او حامد کرزي يې په دې برخه کې ملامتوه.

ورځپاڼه زياتوي، چې په کابل کې د امريکا په مشري قواو د کندهار دا پېښه يوه غميزه وبلله او زياته يې کړه چې د سهار په خړه کې ددوی قواوې په دې ونه توانيدل چې بس له نژدې کيدونکي خطر نه تفکيک کړي نو ځکه يې پرې ډزې وکړې.

خو د عيني شاهدانو نکلونه بل ډول ؤ او دوی د امريکايي قواو دليلونه بې ځايه گڼي.

داسې پوښتنې هم پيدا کيږي چې بهرني قواوې د خطر فشنگونه ولې نه واروي؟

خو ناټو وايي، دوی دا کار کړی دی.

نيويارک ټايمز د کندهار د والي توريالي ويسا خبره نقلوي چې وايي يوه نظامي محکمه کې ددغې امريکايي قطعې قوماندان بايد محاکمه او مجازات شي .

ده ويلي دي: که تاسو غوښتل بس ودروئ نو په ټايرونو به مو ډزې کړې وای، نو ولې په خلکو ډزې کوئ !

ورځپاڼه د کرزي او امريکا تر منځ د ترينگلو اړيکو يادونه هم کوي او ليکي چې ښاغلي کرزي دغه ډزې غير موجه او هغه يې د ناټو د قواوو د تعهد په خلاف گڼلې دي کوم چې د ملکي کسانو ژوند يې بايد خوندي کړی وای.

لاس انجلس ټايمز هم دغه مسئله څېړلې ده. خو د پوځيانو له خولې ليکي چې دوی د بس چلونکی ته د فشنگونو، د لاس په خوځولو او نورو لارو اخطار ورکړ چې ددوی قطار ته نژدې نه شي خو بس گړندی شو نو ځکه پوځيانو په بس ډزې وکړې.

د دوی قواوې وروسته پوه شوې چې په بس کې ملکي کسان سپاره وو.

لاس انجلس ټايمز ليکي چې ائتلافي قواوې چې په کې امريکايي او کاناډايي عسکر شامل دي هڅه کوي چې د کندهار د ښار شاوخوا سړکونه خلاص وساتي او کنټرول يې کړي. ځکه نو دوی د ځان مرگي بريدونو او د سړک د غاړې د بمونو ښکار کيږي. په دې ضمن کې په ملکي خلکو د طالبانو گمان کيږي خصوصاً که دوی لږ بې احتياطي وکړي او پوځي قطارو ته ډېر نژدې شي.

د بس د پېښې او د ښاغلي کرزي او امريکا تر منځ د متشنجو اړيکو په هکله واشنگټن پوست ليکي چې دولس ورځې مخکې د افغانستان جمهور رئيس د ترينکوټ په يوه روغتون کې د يوه څلور کلن ماشوم د کتلو په وخت لويديز ملکونه په افغانستان کې په خراب چال چلند تورن کړل.

ماشوم د امريکايانو په يوه بريد کې خپلې پښې له لاسه ورکړې دي. په دې بريد کې شل نور ملکيان هم وژل شوي دي.

کرزي ماشوم په غېږ کې واخيست او د روغتون اڼگر ته يې يووړ. کرزي د ماشوم نه پوښتنه وکړه، چا ژوبل کړې؟

ماشوم په هوا کې يوه تيرويدونکي هلې کوپټر ته اشاره وکړه. په دې خبرې سره په روغتون کې د ماشوم او د خپلوانو ژړا او واويلا گډه شوه.

دا پېښه او نور ورته سياسي نهيلی ددې باعث شوې چې کرزي په امريکا او خپلو لويديزو اندېوالانو خپل زړه تش کړي او ددواړو تر منځ په اړيکو کې يو بحران رامنځ ته شي.

واشنگټن پوست ليکي چې د ملکيانو وژل د پېښې له ځای نه لري هم په پراخه پيمانه نوري سختې اغېزې هم لري.

د بس د سپرليو وژنه په داسې حال کې پېښه شوه چې د امريکا د ديرشو زرو عسکرو نه زياته برخه يې دې ته چمتو والی نيسي چې د کندهار په ولايت کې يو لوی تهاجم پيل کړي.

حتی جنرال مک کرستال دا هم ويلي دي، چې دغه حمله همدا اوس پيل ده.

کرزي په يوې غونډه کې د کندهار خلکو ته وويل تر هغه به دی امريکايانو ته اجازه ورنه کړی چې ددوی په خمکه کې عمليات پيل کړي تر څو ددوی اجازه تر لاسه شوې نه وي.

د کندهار دبس د پېښې نه وروسته خلکو سړکونه بند کړل او د عدالت د تامين غوښتنه يې وکړه.

خلکو او ددوی استازو دغه عمل يوه وحشيانه عمل وگاڼه ځکه دوی وايي ټول پوهيږي چې بس يواځې د ملکيانو د ليږدولو لپاره په کاريږي.

په کندهار کې د خصوصي ...

دا هغه څه دې چې د امريکايي ځواکونو عمومي قوماندان يې د خلکو د ملاتړ جلبولو لپاره مخنيوی غواړي.

د افغانستان په لويو ښارونو کې پر لويو لارو د گزمې يوه امريکايي قوماندان تورن ماټ کوبگل اسوشيټډ پرېس خبري اژانس ته وويل "کله چې دوی له گټه گوښې ډکو سيمو څخه تېرېږي، لومړی پر ماشې گوته کښېکاږي، وروسته پوښتنې کوي ".

په کندهار کې بهرني ځواکونه وايي دوی خپلو عالي رتبه چارواکو ته په دې اړه شکايت کړی او حتی د دغو کمپنيو ځينې ساتونکي يې نيولي، يا يې هم دا معلومات ورکړي، چې څنگه د دغو اکمالاتي کتارونو امن ټينگ کړي، خو ستونزه ختمه نه ده.

اسوشيټډ پرېس زياتوي، اکثره دغه کمپنی د هغو کسانو دي، چې د کندهار له زورواکو سره تړلي دي.

پنځه ويشت کلن شېرمحمد چې ورور يې سليمان د مارچ په نيمايي کې د ناټو ځواکونو د اکمالاتو د امنيتي کمپنی په ډزو وژل شوی، وويل "حکومت زموږ په غم کې نه دی ".

شېرمحمد زياته کړه، چې دوه نور خپلوان يې هم په ورته پېښو کې له تېرو اتو مياشتو راهيسې ټپيان شوي، چې يو يې ۱۲ کلن ماشوم و.

د شېرمحمد په گډون گڼ کسان د کندهار په ميوند ولسوالی کې راغونډ شوي وو، چې ولسوال عبيدالله باورې ته خپل شکايت ووايي.

ولسوال په دې اړه وويل "دا يوه لويه ستونزه ده، يوازې په ميوند ولسوالی پورې نه ده تړلې، په ټول کندهار کې دا ستونزه شته، اکثره خلک له کوم دليل پرته په دغو ډزو وژل کيږي ".

په دې توگه امريکايي او نور چارواکي نه شي کولای ملکي افغانان قانع کړي، چې تر طالبانو يې دوی ډېره ساتنه کوي.

د کندهار يوه اوسېدونکي سيد احمد خوشال ازادي راډيو ته وويل، همدغو ډزو يا ټکانونو د دې ولايت خلک ډېر وېرولي دي.

يوه پوځي چارواکي ډگرمن ډېو ابراهامس وويل "دا د امنيتي شرکتونو غيرمسوولانه کار دی ".

دا د ملکي افغانانو د ملاتړ ترلاسه کولو په برخه کې ناټو ته کار نور هم سختوي.

ابراهامس خپلو مسوولانو ته په دې اړه يو ايميل هم وليکه، چې په کې راغلي "دوی وسلوال دي، يونيفورم يې اغوستی، د امريکا د اکمالاتي کتارونو امن ساتي، خو له يوې مخې پر کليوالو ډزې کوي ".

پاکستان و افغانستان خطرناکترین ...

بازتابی از مقاومت در برابر سیاستهای آمریکا و حضورش در آن کشور از سوی گروههایی مانند القاعده و مبارزان خارجی است.

کارشناسان سیاسی در آمریکا گفته اند که فشارهای نظامی آمریکا در افغانستان و پاکستان باعث شورش مردم علیه نظامیان آمریکایی شده است.

در جریان حملات مستقیم و غیرمستقیم آمریکا به این دو کشور هزاران افغانستاني و پاکستاني کشته شده اند.

په کابل کې سلګونو لاريون ...

کې د ايران پرضد پراخې مظاهرې وکړي، بلکه په کابل کې به د ايران سفارت هم وتړي.

په ولسي جرگه کې دکابل د خلکو استازي نجيب الله کابلي او د امروز په نامه د خصوصي ټلويزيوني شبکې خاوند چې د ملي مشارکت دگوند مشري هم پر غاړه لري ددې لاريون په ترڅ کې رسنيو ته وويل چې د ايران ديزد ښار په مهريز سيمه کې د افغانانو کورونه سوځول شوي دي.

ايراني ځواکونه په ياده شوې سيمه کې د افغانانو کورونو ته ننوتي او دوه افغانان يې،چې مېړه او ښځه وو له روغتون څخه تروېستو وروسته په ډېره بې رحمی وژلي دي .

قهرجنو لاريون کوونکو غوښتل، چې د ايران د سفارت له چارواکو سره خبرې وکړي، خو ايراني ډيپلوماټانو له دې کاره ډډه وکړه او دې کار مظاهره کوونکي نور هم په غصه کړل.

دغه لاريون کونکو د افغانستان پر دولت هم نيوکه کوله چې نه غواړي په ايران کې د افغانانو سره دهغه ځای د حکومت ناوړه چلن په اړه په جدي اقدام لاس پورې کړي.

يو شمير دغه لاريون کونکو له ځان سره په ايران کې د شکنجه کيدونکو افغانانو انځورونه هم ليږدول اود ايراني چارواکو پر ضد يې شعارونه ورکول او د ايران سفارت مخې يې ته د دغه هېواد د ولسمشر محمود احمدي نژاد مجسمې ته هم اور ورته کړ.

په هغه پرېکړه ليک کې چې ددې لاريون په پای کې ولوستل شو راغلي چې بايد د ايران سفير د افغانستان بهرنيو چارو وزارت ته احضار شي تر څو په ايران کې د افغانانو د غيرقانوني او غير انساني محاکمې په اړه معلومات ورکړي.

دغه رازپه پريکړه ليک کې راغلي چې دايران دولت بايد په مهريز کې د افغانانو د کورونو دسوځېدو په اړه هم توضيحات ورکړي.

په پرېکړه ليک کې له ټولو افغانانو غوښتل شوي، تر هغه چې ايران د افغانانو په وړاندې خپل سياست نه وي بدل کړی ، د ايران هيڅ ډول توکي له بازارونو څخه ونه پيري ، تر څو ايران پوه شي، چې افغانان د مقابلې لپاره مناسبې لارې پېژني.

په پرېکړه ليک کې د افغانستان له دولت څخه غوښتل شوي چې ضعيفه ديپلوماسي يوې خواته کړي او فعال سياست ته مخه کړي او د دا ډول کړنو په وړاندې جدي غبرگون وښيي.

پېښور کې د تښتول شوي افغان ...

چې د يرغمل نيوونکو غوښتنې څه دي.

تردې مخکې هم د فراهي ويډيو خپره شوې وه او ادعا شوې وه چې نوموړی طالبانو تښتولی دهغه د خلاصون په بدل کې يې پيسې او د يوشمېر طالب بنديانو خوشې کېدا غواړي.

د تېر کال د مې په مياشت کې پاکستانيو طالبانو په پاکستان کې د افغانستان دنومول شوي نوي سفير دراخوشې کېدو په بدل کې د ۳۰ طالبانو او د ۲۵۰ مليونه کلدارو غوښتنه کړې وه .

طالبانو دافغان ډيپلوماټ دراخوشې کولو په بدل کې د ۲۵۰ مليونه کلدارو او د ۳۰ لوړ پوړو نيول شويو طالبانو دراخوشې کولو غوښتنه کړې ده.

تېر کال هم د فراهي ويډيو خپره شوې وه چې ورپسې په اسلام آباد کې دافغانستان د سفير ځای ناستي مجنون گلاب ځاځي پژواک خبري اژانس ته ويلي وو چې دوی هم دطالبانو له خوا ددغسې يوې ويډيو د خپرېدو خبر ترلاسه کړی دی.